لاتویا

# زما د ګوتو نښنو او انځور ته ولې اړتیا ده؟

س ډول

**هغه کسان چې د ملي بیا مېشتېدا یا بشرپاله منلو پروګرام له لارې مېشت شوی وي**



PASHTO

## دا بروشور زه ولې تر لاسه کوم؟

تاسې د اروپايي ټولنې+ يوه هېواد ته د ملي مېشتېدا يا بشرپاله منلو پلان له مخې منل شوي ياست

په دغه بروشورکې د معلوماتو په اړه کوم چې د چارواکو لخوا به وساتل شي او دا چې د څومره وخت لپاره به وساتل شي، زيات معلومات شته.

## ولې بايد زه د خپلو ګوتو نښې او انځور ورکړم؟

د دې هېواد چارواکي به ستاسو د ګوتو نښې او انځور واخلي. دا معلومات او ستاسو د پېژندنې له معلوماتو او نورو اړوندو معلوماتو سره به يو ځای، د Eurodac ډېټابيز ته واستول شي.

Eurodac د مشخصو کټګوريو لرونکي خلک د هغوی د ګوتو د نښو او انځور په بې ساري مشخصاتو سره نښلوي، کوم چې د اروپايي ټولنې+ يوه هېواد اتباع نه دي.

دا ډېټابيز د اروپايي ټولنې+ د 31 هېوادونو له خوا کارول کېږي، چې کولای شي ستاسو معلومات پروسس او ترلاسه کړي. د اروپايي ټولنې+ هېوادونه د همدې بروشور په پای کې راغلي دي.

# په EURODAC کې کوم معلومات زېرمه کېږي؟



لاندې معلومات له پخوا نه په کې زېرمه دي:

- ستاسې د ګوتو نښې
- ستاسې د مخ انځور
- ټول هغه نومونه چې تاسې اوس يا پخوا کارولي دي
- د زوکړې ټولې هغه نېټې چې تاسې اوس او پخوا کارولې دي
- ستاسې د زوکړې ځای
- ستاسې مليت يا مليتونه
- ستاسې جنسيت
- ستاسې د هويت يا د سفر د اسنادو کاپي کوم چې تاسې کارولې دي، او که چېرته موجود وي نو د هغوی د اعتبار په اړه معلومات هم په کې شامل دي
- د هغه افسر کارن پېژند (User ID) چې ستاسو د ګوتو نښې او عکس يې اخيستی، او هغه نېټې چې ستاسو معلومات اخيستل شوي او لېږل شوي دي

لاندې معلومات به، که اړتيا وي، په Eurodac کې ثبت شي:

- هغه نېټه چې هغه +EU هېواد چې تاسو ته يې د داخلېدو اجازه درکړه، تاسو ته نړيواله يا بشري ساتنه درکړه.

ته حق لرې چې Eurodac کې ثبت شوي ناسم معلوماتو ته لاسرسی ولرئ او اصلاح يې کړئ، او غوښتنه وکړئ چې ستاسو معلومات حذف شي که دا معلومات په ناقانونه توګه اداره شوي وي. تاسو کولای شي د معلوماتو کنټرولر (data controller) سره اړيکه ونيسئ. د معلوماتو د کنټرولر د اړيکې جزئيات کېدای شي د **«Eurodac په اړه د څه پوهېدو ته اړتيا لرئ»** په بروشور کې ومومئ.

## زما شخصي معلومات به په Eurodac کې تر کومې مودې پورې ثبت وي؟



ستاسې معلومات به د 5 کلونو لپاره زېرمه وي او له هغه وروسته به په اتومات ډول سره پاک شي.

که چېرې تاسې د اروپايي ټولنې+ يوه هېواد کې د همدې دورې له انقضاء څخه وړاندې تابعيت تر لاسه کړئ، نو ستاسې معلومات به پاک شي. که ستاسو معلومات حذف شي، دا به په هغه هېواد کې چې تاسو تابعيت ترلاسه کړی، ستاسو موقف ته زيان ونه رسوي.

**تاسې اوس په لاتويا کې ياست، کوم چې د اروپايي ټولنې+ يو هېواد دی.**
**د اروپايي ټولنې+ هېوادونه دا دي:**

- د اروپايي ټولنې (EU27) غړي هېوادونه دا موارد دي: اطريش، بلجيم، بلغاريه، کروشيا، قبرس، چيک جمهوريت، ډنمارک، استونيا، فنلينډ، فرانسه، جرمني، يونان، هنګري، ايټاليا، لاټويا، ليتوانيا، لوکزامبورګ، مالټا، هالنډ، پولنډ، پرتګال، د ايرلينډ جمهوريت، رومانيا، سلواکيا، سلونيا، هسپانيه، سويډن او
- 4 نور هېوادونه: ايسلېنډ، ليچتنستين، ناروې، سويټزرلنډ.

دا بروشور يوازې د معلوماتي موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه يا مکلفيتونه نه رامنځته کوي. نه د اروپايي اتحاديې د پناه غوښتنې اداره (EUAA) او نه هم کوم شخص چې د دې ادارې په استازيتوب عمل کوي، په دې يادښت کې د شاملو معلوماتو د احتمالي کارونې مسؤل نه ګڼل کېږي.

© پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحاديې اداره، 2025